# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com		afgazad@gmail.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
| --- | --- |

محمد هارون خپل شعشعی
۰۴ جنوری ۲۰۱۲

## د
## علی محمد مخلص
## عرفانی فرهنگ
### د محمد هارون خپل شعشعی
### لیکنه او څیړنه
### ۳۰

۸۲ - د لاهوت عالم : وګورئ عالم اود هغه ډولونه

۸۳ - د مانا عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ملکوت عالم

۸۴ - د ماهیاتو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر سرلیک لاندي د جبروت عالَم

۸۵ - د مثال عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ملکوت عالم

۸۶ - د مجرداتو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » ترسرلیک لاندي د ملکوت عالم

۸۷ - د محسوساتو عالَم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » ترسرلیک لاندي د ناسوت عالم

**۸۸ - د محیط بحر :**

د اسلامي تصوف او عرفان د زیاترو منثورو او منظومو آثارو په څېر زموږ د مفکر او باریک بین عارف، علي محمد مخلص، په عارفانه شاعرۍ کي هم د « محیط بحر » یا « بحر محیط » عرفاني - فلسفي اصطلاح خورا ډېره تر سترګو کیږي . په « فرهنګ لغات و تعبیرات عرفانی » کي د « بحر محیط » د عرفاني اصطلاح په اړه داسي راغلي دي : « په کنایي سره د ناپایه نور یادونه ده، لکه څنګه چي وايي : الله نور السموات و الارض۱ . . . » ریښتیا هم د نور د سورې د پینځه دېرشم آیت ( ۲۴ : ۳۵) په اوله برخه کي دي خبري ته اشاره سوې ده، چي الله تعالی داسمانو او مځکي نور دئ . ځینو د نور ټکی د مالک یا څښتن په مانا هم تفسیر کړئ دئ . د همدې مبارک آیت په پاته برخه کي د دې نور د ځینوځانګړتیاوو په باب یادوني سوي دي ؛ خو د « فرهنګ لغات و تعبیرات عرفانی » لیکوال ، ډاکټر سجادي، د دې مسألي په شسننه او څېړنه سر نـــه خوږ يي، چي داسمانو او مځکي دا حقیقي او بې مثله نور، ولي « بحر محیط » یا « محیط بحر » بلل کیږي ؟ د

نور د سورې پر دغه آيت سربېره، د سپېڅلي قرآن  په نورو مبارکو آيتوکي هم  دکايناتو پر ټولو شيانو باندي  د رب العالمين د راګرځېدو او چاپېرتيا مسأله  په دقيقه او بشپړه توګه بيان سوې ده .  د مثال په ډول، د نسآء  د سورې په يوسلو شپږ ويشتم آيت ( ۴ : ۱۲۶ ) کي داسي راغلي دي : « و لله ما فی السموت و ما فی الارض وکان الله بکل شئ محيطا » ياني ټول هغه څه  په خدای تعالی اړه لري،  چي په اسمانو او ځمکه کي نغښتي دي؛ او الله سبحانه و تعالی پر ټولو شيانو چاپېر دئ .

د پښتنو عرفاني لارښود-  بايزيد روښان  ( ۹۳۱-  ۹۸۰ هـ ق ) هم په خپلو ژورو فلسفي او عرفاني نظريوکي د « محيط بحر » په اړه  خورا په زړه پوري بيانونه کړي دي . د « حالنامې » د روايت له مخې، پير روښان د خپلو عرفاني کوښښو او رياضتو په يوه پړاو کي خپل ځان  او ټول عالَم  د ماهي يا کب په څېر په يوه ستر او ناپايه درياب ( محيط بحر)کي ډوب  ليدئ .  ده  دزړه په سترګو  ليدله، چي ماهی په اوبوکي او اوبه  په ماهي کي دي . کله چي ماهی په درياب کي سا ننباسي، د درياب اوبه يې وجود ته  ور ننوزي؛ اوکله چي سا باسي د درياب اوبه يې بيرته له وجود څخه وزي .  ماهی د هري سا په ننه ايستلو او را ايستلو کي د درياب له  اوبو سره يو ځای روان يې( وي) .  د ماهي د سا ايستلو او پوکلو دا بهير تل ترتله په  همدې توګه پايښت مومي . د پير روښان له عرفاني ډکتورينو سره سم د موجوداتو د ژوند او ژواک اوبه هم د همدې ماهي په شان  له محيط بحره راځي؛ او ترڅه مودې وروسته بيرته  له همغه تلپاته، بې ساري او ناپايه سمندر سره يوځای کيږي . د « محيط بحر  »  اوبه بيادکايناتو په بېلابېلو موجوداتو کي د ژوند او قيام  سا پوکي؛ او د ژوندانه تر ټاکلي مودې وروسته بيرته له خپل  اصل او منشأ سره يو ځای کيږي[۲] .  د پير روښان په دې لنډ، خو ژور عارفانه او فلسفي بيان کي د کايناتو د فنأ او بقأ ټوله پېچلې مسأله، په خورا دقت او ظرافت سره بيان سوې ده .

د« حالنامې » د روايت له مخې،  الله سبحانه وتعالی و بايزيد روښان قدس سره ته ددې قدسي حديث الهام وکئ : « يا عبدی انت فی وانا فيک کمافی السمک و السمک فی المأ » ياني اې زما بنده! ته په ما کي يې؛ او زه په ته کي يم، لکه څنګه چي اوبه په ماهي او ماهی په اوبو کي دئ . پير روښان ځلور کاله  همدا عرفاني حالت لاره . د« حالنامې » ښبنتن وروسته کاږي : « دا د واجد عارف مقام دئ، چي د حق تعالی له هستی پرته، بل هيڅ شی موجود نه ګڼي[۳] . »

د همدې خبرو او استدلال پر بنسټ « محيط بحر » په مجازي او کنايي ډول د هغي هستی نوم دئ، چي اول او آخر، سر او پای، ساری او مثال نه لري . د کايناتو ګرده موجودات او مخلوقات د دې هستی  پيدا او په دې هستۍ پايي؛ د ژوند او مړيني  پړېکړه يې د همدې هستی له خوا کيږي .  له همدې کبله ځينو عرفاني مخکښانو د « محيط بحر » ته  د « هستی بحر » هم ويلئ دئ .  دا هستي د الله سبحانه و تعالی ذات دئ . که څه هم د نور د سورې په پينځه دېرشم آيت کي د حق تعالی ذات ته د اسمانو  او ځمکي د نور په توګه ګوته نيول سوې ده؛ خو د شورا د سورې د يوولسم آيت د حُکم له  مخي د کايناتو  هيڅ  شی له دې هستی سره ورته والی او مشابهت نه لري . عارفانو د پروردګار د ذات او صفتوپه  باره کي بېلابېلي نظريې وړاندي کړي دي . ځينو د الله تعالی د ذات په باب له هر ډول نظريې او مفکورې بيانولوڅخه ډډه کړې ده؛ ځينو نورو د ذوالجلال ذات د ستر او ناپايه،  تلپاته او بې مثله نور په شان ګڼلئ دئ .  عبدالله يوسف علي  د قرآن مجيد په مشهور تفسير کي  د امام غزالي د « مشکاة الانوار » په استناد ددې نور په تشريح او شننه کي پراخي خبري کړي دي .  د ده له نتيجه اخيستني سره سم، الله تعالی د اسمانواو ځمکي نور دئ-  داسي  ستر، بې حده او تلپاته نور، چي  زموږ ټولو ارواې روښانه کيي .  دا

نور دونه نګه ( خالص) او تېز دئ، چي حتاپرېږ او مُکدر جسمونه يې هم بې پردې وړانګي او پلوشې نسي زغملای[۴] . . .

زموږ متفکر شاعر، علي محمد مخلص، هم په خپلو ژورو عارفانه افکارو او نظريو کي د « محيط بحر » په باب ډېرکره بيانونه کړي دي . هغه ، په يوه ښکلي غزله کي د « محيط بحر » عرفاني او فلسفي مفهوم په داسي څرګندو او ژونديو ټکو راپېژني :

دحق ذات بې مثله بحر بې پايـــان دئ
په شپږ لوري يې حد نشته بېکران دئ
له هر چا سره محيط دئ په شپږ لوري
هم پکښي هم تر چوپېر بحر حيوان دئ
د هر چا ژوندون په ده دئ چي مـــوجود دئ
دا محيط دريا د هر ځيز جانِ جـــان دئ

په يوه بله غزله کي پر ټولو کايناتو باندي د حق تعالی د چاپېر والي حقيقت اوله « محيط بحر » سره د انسان او کايناتو دبېساري اړيکو موضوع داسي تصويريي :

کُل جهان لکه صورت انســان يې زړه شي
حق په هر افراد محيط زړه يې سرير دئ
روح درياب، صورت ماهی دئ په درياب کښي
هم پکښي هم تري چوپېرد بحـرنير دئ
دا محيط دريا ارواح، عالَم صـورت شه
دا عظيم ارواح د جسم په تدبيردئ
دا صورت لکه قلم د روح په لاس کښي
حرکت، فعل يې واړه له دبير دئ
په خپل خواست يې کښېنوي هم يې ولاړ که
دا غريب صورت د روح په لاس اسير دئ

يوبل ځای کاينات دحق تعالی په ناپايه هستی کي د کوبيو يا حُباب په څېر بولي؛ او دي بې مثله هستی ته د هغه « محيط بحر » په سترګه ګوري، چي په يوه څپه کي هر څه ته د ژوند سا بخښي؛ او په بله څپه کي( کي يې) د مرګ او نابودی په کاروان کښېباسي :

ج جُمله عالَم حُباب دئ
ذات و بود يې په درياب دئ

مخلص، همدا « محيط بحر » د کايناتو په ټولو موجوداتو کي د هر رڼغ او هرخوځښت مبدأ او منشأ ګڼي :

له يوه بحره غوټې يې څرګنديږي
له يوه بحره آواز په څو انــــګاز شي
د زړه غوږ که دي شنوا شي وبه واروې!
په هر ني کښي د يوه نايي آواز شي

بل ځای د هغه عارف څرنګوالی بیانیي، چي د « تخلقوا باخلاق الله » لوړعرفاني مقام ته په رسېدو سره، خپل نېست وجود د بقأ په سمندر کي ډوبیي؛ او ځان د یوې سترې، ناپایه او تلپاته هستی په وجود کي ګوري :

ځان به بحر بې پایان ګوري بې حده
چي یې څاڅکی له دریابه سره ضم شي
***

« بحر هر یک موج زن بینـی
چون رسید هر یکی به بحر محیط
خویش را پیش او چو جو بیـــند
بلکه یک قطره ز نهر محـــیط۵ »

زموږ بینا دل عارف، علي محمد مخلص، په خپله پاړسي شاعری کي هم د « محیط بحر » عرفاني مسأله دخورا دقیقو او ظریفو انځورونو په وړاندي کولو سره بیان کړې ده . په یوه غزله کي د خپل کامل پیر، بایزید روښان، له عرفاني نظریو سره سم، د الله تعالی د هستی په ناپایه بحر کي د انسان د وجود فلسفه؛ او د هغه د ژوند بېلابېل اړخونه څېړي؛ خو د دې پټو واقعیتو د پوهېدو دپاره د جان بینو یا باطني سترګو پر اړتیا ټینګار کیي، چي یوازي د عارفانو په برخه دي :

« جسم جویست این آب است انـــدر وی روان
بر نگردد بار دیگر چون شود بر جوی روان
آب دیگر آید و بگذرد در هر نفس
روز و شب جاریست این بحــر روان
عین در بحــری و آب اندر جوی تــست
حوت اندر بحر بین وبــحر اندر حوت دان
حوت چون در بحـر گردد روی او باشـد به آب
آدمی هر سو که گردد ســوی حق گردد بدان
حوت نابینا نبیند خویش را در قعر بحـر
لاجـرم پرســان آب ازاین و آن
چون نظر ماهی کند اول نظر افتد بر آب
لیک از روی شفافش در نمی یابد عـنان
همچنین انسان که بیندهر طرف حق حاضر است
زانکه از بهر لطافت هست از چشمش نهان
غیر مرشد چون شوی بینا برین بحر حیـاط
بی دلیل کی بیابی تو نشان از بی نـشان
ای علی محمد ز بحر دیدن این بحر لطـیف
چشم جان بین باید و نی ناظر چشم جهان۶ »

بل ځای بیا هم پر انسان او نورو موجوداتو باندي د لوی ښښتن د چاپېروالي؛ او د ټولو کایناتو د اروا په خبر د حق تعـــــالی د هستی ښکلی تصویر وړاندي کیي . مخلص، په دې ژور عارفانه بیان کي دا فلسفي او عرفاني خبره شني، چي انسان او نور مخلوقات په هیڅ حال کي د الله سبحانه و تعالی له هستی او واکمنیڅخه دباندي نسي وتلای؛ پر هر لور او هر مکان د ده له ذات سره مخامخ دي . د دې مسألي په سپړنه او بیان کي بیا هم د ماهي او اوبو روښانه مثال ته اشاره کیي . ماهی په هر ځای او هر زمان کي بې اوبو ژوند نسي کولای؛ ژوند او مړینه یې په همدې اوبو کي ده . انسان او نور مخلوقات هم دماهي په څېر له دې لایزاله او ناپایه هستی سره نه شلېدونکي اړېکي او پیوستون لري ؛ او هر ې خواته یوازې دحق تعالی ذات ګوري . دا مسأله د بقرې د سورې دیوسلو پینځلسم آیت ( ۲ : ۱۱۵) په یوه برخه کي داسي راغلي ده :« . . . فاینما تولو افثم وجه الله . . . » یاني هري خوا ته چي مخ واړیې، هغه لوري ته د الله مخ ګورې! مخلص، د خپل عرفاني او فلسفي شعر په ښکلي جامه کي دا مسأله داسي بیان کړې ده :

« تویی در من و من اندر تو
چو مـاهی هست انـــدر آب
نظر کن سوی من عـــــــبدی
کـــه دارم ذات خـــود هر سو
به هر جانب که بـــر گـــردی
رخـــت کرد و بـــــه سوی من
به هر سو هست ذات مـــــــن
چو گردانی به هر سو رو ۷ »

مخلص په یوه بله پاړسي مثنوي کي« محیط بحر » د ټولو موجوداتو د ذات او جوهر په توګه ښیي؛ څکه په ذات او جوهر کي د هر موجود ټولي ځانګړتیاوي او صفتونه نغښتي دي :

« . . . هست قایم به ارض سنگ و نبات
و ز دریاست جسم حوت حیات
هم زنار ست جسم دود پـدید
هم ز بحر محیط نفخه دمـید
هست بحر محیط ذات همه
هست این بحر را صفات همـــه ۸ . . . »

بل ځای، د هغو سالکانو پر عرفاني مقام را څرخي، چي د انساني جامي په لیري کولوسره ځانونه د « محیط بحر » په ستر او بې ساري دریاب کي ډوبیي؛ او په دې توګه د تلپاته، ناپایه او بې مثله دریاب۹نه بېلېدونکي برخه ګرځي :

« . . . چون فنأ فی الله بقأبالله شــوی
گر مسی از من شنو طـلا شوی
قطرۀ باران که در بحر عظـیم
افتد گردد چنان بحر کـریم
قطره یی چون محودر دریاشــود

بحر گردد قطره ناپیـدا شـــود

بحر گوید کف منم امواج هــم

کی شود از موج آبم بیش وکم

خویش را هم بحر بینم هم حــباب

کُل شدم هم تار گشتم هـم ربـاب

بحر ذکر کُل کند هر دم مدام

که لطیفم هم کثیف هم پخته خام۱۰ . . . »

د نورو  مالوماتو دپاره و گورئ : هستي او نېستي، ذات او صفتونه، د حیوان بحر .

لمنلیکونه

۱ سجادی ۹۶ .

۲ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۴۶ .

۳  مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۶۶ .

4 Yusuf Ali 907.

۵ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان  ۳۴۵  .

۶ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۴۶-۴۷  .

۷ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۶۶ .

۸ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان  ۸۳ ـ ۸۴  .

۹ د پښتو په لرغوني او منځني ادب کي تل د عربي « بحر» دپاره د « درياب » ټکی استعمال سوئ دئ، چي په واقعيت کي د پهلوي/ پاړسي « دريا» مغغنه يا پښتو بڼه ده . د« سمندر» هندي کليمه، چي دا دئ په دې وروستيو کلو کې ( کي يې) د تصغير علامې په ور زياتولو سره « سمندرگی » هم ځني جوړ کړئ دئ، زموږ په لرغوني او منځني ادب کي هيڅ يا چندان استعمال نه لري . زموږ په لرغوني يا منځني ادب کي تقريباً هر ځای د « سمندر» ټکی د شرموښکی/ شرمښکی يا سوسمار په مانا راغلئ دئ، چي په انگرېزي کي سَلَمندر (salamander)  بولي؛ او ويل کيږي چي په اور او اوبو دواړو کي ژوند کولای سي . له دې لنډي يادوني څخه مي اساسي هدف دا دئ، چي د پښتو ژبي  متعصبو او پيښه گرو سوچه پالو په پټو سترگو د « درياب » له کاروَني څخه، چي زموږ په ژبه او ادب کي اوږدې ريښې لري، مخ  اړولئ دئ؛ او پر ځای يې د هندي ژبي و« سمندر» او « سمندرگي » ته لار هواره کړې ده.  « دباندي » د پښتو سوچه او سپېڅلې کليمه ده، چي د دې ژبي په لوېديځه لهجه کي خورا په  پيخرکاريږي . متأسفانه دا ټکی هم په پټو سترگوپه « بهر » اليش کړل سو، چي له هندي «  باهر » څخه اخيستل سوئ دئ . نن ټول پيښه گر مطبوعاتيان دد باندنيو يا خارجه چارو وزارت پر ځای د بهرنيو چارو وزارت وايي . د داسي ټکو شمېر تر انده پاس دئ، چي په را غونډولو او بيانولو يې سړی ستړی کيږي . اريانونکي خو دا ده، چي دا ښاغلي و دغه راز چپه او راسته غوبلو ته د پښتو د« سوچه  کولو» نوم ورکيي!  اما په واقعيت کي خبر نه دي، چي د پلار او نيکه سپېڅلې، اسانه او خوږه ژبه د ناپوهی او تعصب له  مخي د هري ورځي په تېرېدو سره له خپلې اولسي ختې او تومني بې برخي کيي . خدای دې ور وښيي!

۱۰ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۳۵۳  .

پاته لري